**د اخیستوونکو او پاملرنه کوونکو لپاره د جانسن کوویډ- ۱۹ واکسین د کاروني حقیقت پاڼه، تر څو په هغو کسانو کې د ۲۰۱۹ کال د کرونا ناروغۍ مخنیوی وکړي چې عمر یې ۱۸ کاله او یا هم له دې لوړ وي**

تاسو ته د جانس کوویډ- ۱۹ واکسین وړاندې کېږي، تر څو د ۲۰۱۹ کوویډ- ۱۹ ناروغۍ مخنیوي وکړئ. دغه ناروغي د SARS-CoV-2 له کبله رامنځته شوې ده. په دغه حقیقت پاڼه کې هغه معلومات ځای پر ځای شوي دي، چې تاسو سره د جانسن کوویډ-۱۹واکسین ګواښونو او ګټو په اړه پوهېدلو کې، چې ښایي تاسو یې ترلاسه کړئ، مرسته کوي، ځکه چې د کوویډ-۱۹ ناروغي اوس هم شتون لري.

د جانسن کوویډ -۱۹واکسین یو واکسین دی او ممکن تاسو په کرونا ویروس د اخته کېدو څخه خوندي وساتي.

د جانسن کوویډ- ۱۹ واکسین په اړه د معلوماتو لپاره دغه حقیقت پاڼه ولولئ او که چېرې کومه پوښتنه لرئ د واکسین چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ. د جانسن کوویډ- ۱۹ واکسین ترلاسه کول ستاسو خپله خوښه ده.
د جانسن کوویډ- ۱۹واکسین له FDA څخه د بیړنۍ کاروني اجازه ترلاسه کړې ده تر څو چمتو کړي:

- د ۱۸ کلنو او لوړ عمر لرونکو کسانو لپاره یو لومړنی واحد واکسین
- یو واحد تقویتي واکسین د هغو کسانو لپاره چې عمر یې ۱۸ کاله یا له دې لوړ وي او د جانسن کوویډ-۱۹ واکسین لومړی واکسین یې بشپړ کړی وي
- یو واحد تقویتی واکسین د هغه ۱۸ کلونه او یا له هغې څخه پورته عمر لرونکو کسانو لپاره چې لومړی واحد واکسین یې د کوید-۱۹ د جلا ډول تایید شوي او یا د بیړنۍ کاروني واک لرونکي واکسین تر لاسه کړی اوسي.

د جانسن کوید-۱۹ واکسین ښایي هر څوک خوندي نکړي.

دغه حقیقت پاڼه ښایي نوې یا تازه شوې وي. وروستۍ حقیقت پاڼې د لوستلو لپاره مهرباني وکړئ لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ: www.janssencovid19vaccine.com.

**وړاندې له دې چې دغه واکسین ترلاسه کړئ څه شي ته اړتیا لرئ؟**

**کوویډ -۱۹ څه شی دی؟**

کوویډ- ۱۹ د SARS-CoV-2 ویروس څه رامنځته شوی دی. دغه ډول کرونا ویروس له دې وړاندې نه و لیدل شوی. تاسو بل کس سره چې دغه ویروس لري، د اړیکي له لارې پر COVID-19 اخته کېږئ. کرونا په لویه کې یوه تنفسي ناروغي ده، چې کولای شي په نورو ارګانونو هم اغیزه وکړي. هغه خلک چې په COVID-19 اخته دي د ډېرو نښو نښانو د درلودو راپور یې ورکړل شوی، چې له معتدلو نښو څخه تر جدي ناروغیو پورې پکې شاملې دي. دغه نښې نښانې کېدای شي له ۲ څخه تر ۱۴ ورځو وروسته له ویروس سره مخامخ شي. په دې کې ښایي لاندې نښې نښانې شتون ولري: تبه یا زکام، ټوخی او ساه لنډي، د بدن د عضلاتو ستړیا او سر درد، تازه په تازه د خوند یا بوی د حس له لاسه ورکول، د ستوني درد، د پزې بهېدل یا بندېدل، التهاب یا کانګې، او اسهالا

**د جانسن کوویډ- ۱۹ واکسین څه شی دی؟**

د جانسن کوویډ- ۱۹ واکسین یو ناتصویب شوی واکسین دی چې ښایي د کوویډ- ۱۹ مخنیوی وکړي.

د ۱۸ کالو او له دې لوړ عمر لرونکو کسانو کې د کووېډ- ۱۹ د مخنیوي لپاره د جانسن کووېډ- ۱۹ واکسین د بېړنۍ کارونې اجازه FDA ورکړې ده. دغه اجازه یې د بېړنۍ کارونې (EUA) پر بنسټ ورکړې ده.

د بېړنۍ کارونې (EUA) په اړه د نورو معلوماتو لپاره د (د بېړنۍ کارونې اجازه (EUA) څه شی ده؟)برخه د دې حقیقت پاڼې په وروستۍ برخه کې وګورئ.

**وړاندې له دې چې تاسو د جانسن کووېډ- ۱۹ واکسین ترلاسه کړئ، واکسین چمتو کوونکي ته مو باید څه یادونه وکړئ؟**

د خپل واکسین چمتو کوونکي ته د خپلو ټولو روغتیایي شرایطو په اړه ووایئ که چېرې تاسو:

- کوم حساسیت لرئ
- که تبه لرئ
- که د وینې اختلال لرئ یا د وینې کموالي
- که کله هم د پلیټلیټ ټیټه کچه لری (د وینې حجرې چې ستاسو د بدن سره د وینې جریان بندولو کې مرسته کوي)
- که معافیت مو کم شوی وي یا په داسې درملو روږدي یاست چې ستاسو د معافیت سیستم یې اغېزمن کړی
- حامله یاست او که د حامله کېدو پلان لرئ چې حامله شئ
- که شیدئ ورکوئ
- د کووېډ ۱۹ بل واکسین مو کړی وي
- که کله هم د پیچکارئ پر مهال بې هوښه شوي یاست

**څوک باید د جانسن کووېډ- واکسین ترلاسه کړي؟**

FDA د ۱۸ کالو او له دې د لوړ عمر لرونکو کسانو لپاره د جانسن کووېډ -۱۹ واکسین د بیړنۍ کارونې اجازه ورکړې ده.

**څوک باید د جانسن کووېډ- ۱۹ واکسین <u>ونه</u> کړي؟**

تاسو باید د جانسن کووېډ ۱۹ واکسین ونه کړئ که چېرې مو :

- د دې واکسین له مخکني ډوز څخه وروسته مو حساسیت لرونکی غبرګون درلود
- د دې واکسین د هر ډول اجزاو پر وړاندې مو شدید حساسیت لرونکی غبرګون درلود
- د جانسن COVID-19 واکسین یا د AstraZeneca د COVID-19 واکسین (په متحده ایالاتو کې تصویب یا تصویب شوی نه دی) په کولو د پلاکټ ټیټي کچې سره د وینې ټوټې درلودې (د وینې حجرې چې ستاسو بدن سره د وینې جریان بندولو کې مرسته کوي).

**د جانسن کووېډ- ۱۹ واکسین له کومو اجزاوو څخه جوړ شوی دی؟**

د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین کې لاندې اجزاوې شامل دي: بیا جوړونکي، د نقل کولو غیر فعال اډینو ویروس ډول 26 چې د SARS-CoV-2 سپیک پروټین څرګندوي، سیټریک اسید مونو هایدریټ، ټریسوډیم سیټریټ ډیهایډریټ، ایتانول، 2-هایډروکسیپروپیل (β-Cyclodextrin)، polysorbate-80، سوډیم کلوراید.

**د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين څه ډول ورکول کېږی؟**

د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين به د پیچکاری په وسیله ستاسو په عضلاتو کې درکړل شي.

لومړنی واکسين:

د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين د یو واحد په توګه تنظیم شوی.

تقویتي واحد:

- د جانسن کووېډ- ۱۹ واکسين يو تقویتي واحد ښايي د لومړنی لړۍ له بشپړېدو وروسته لږ تر لږه دوه میاشتې وروسته د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین سره ورکول کېږي.
- د جانسن کووېډ -۱۹ واکسين يو واحد بوستر ډوز ښايي هغو ۱۸ کاله او یا پورته عمر لرونکو کسانو ته ورکړل شي چې لومړنی واکسین یې د کووېډ -۱۹ بېلابېلو اجازه لرونکو یا تصویب شوو واکسینونو سره بشپړ کړی وي. مهرباني وکړئ د بوستر ډوز د وخت او بیا ورکېدو لپاره د خپل واکسین چمتو کوونکي سره وګورئ.

**آیا د جانسن کوویډ-۱۹واکسین له دې وړاندې کارول شوی دی؟**

د جانسن کووېډ- ۱۹ واکسين يو ناتصويب شوی واکسين دی. په کلینکي ازموینو کې کابو ۶۱۰۰۰ هغو کسانو چې عمرونه یې ۱۸ کاله او له دې لوړ عمر لرونکو د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين يو واحد واکسين ترلاسه کړی. د ۲۰۲۰ کال د فبرورئ میاشتې له ۲۷ نېټې راهیسې میلیونونو کسانو د (بېړنی کاروني اجازې) څخه لاندې دغه واکسین ترلاسه کړی دی.

**د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين ګټې څه دي؟**

د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين ښودلې ده چې د کووېډ-۱۹ مخنیوی کوي. اوسممهال د کووېډ-۱۹ پر وړاندې د خوندیتوب موده څرګنده نه ده.

**د جاسن کووېډ-۱۹ واکسين ګواښونه کوم دي؟**

هغه جانبي عوارض چې د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين سره یې راپور ورکړل شوی لاندې موارد پکې شامل دي:

- د انجکشن سایټ عکس العمل: درد، د پوستکي سوروالی او پړسوب
- عمومي جانبي عوارض: سر درد، د ډېرې ستړیا احساس، د عضلاتو درد، زړه بدوالی او تبه
- د لمف نوډونو پړسوب
- د وینې ټوټې
- په پوټکي کې غیر معمولي احساس (لکه د خارښت یا سوځیدلو احساس) د احساس کمیدل یا حساسیت، په ځانګړې توګه په پوستکي کې
- په غوږونو کې پرله پسې کرنګهار
- اسهال او کانګې

شدید حساسیتي غبرګونونه

په ډېره کمه که چانس شته، چې د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین کولای شي د شدید حساسیتي غبرګون لامل شي. یو شدید حساسیتي غبرګون معمولا له څو دقیقو څخه تر یوه ساعت وروسته رامنځته کېږي.

په همدې دلیل ستاسو د واکسین چمتو کوونکی ښایي له تاسو څخه وغواړي چې په هغه ځای کې پاتې شي چیرې چې تاسو د واکسین کولو وروسته د څارنې لپاره خپل واکسین ترلاسه کړی. د شدید حساسیتي غبرګون په نښو نښانو کې ښایي لاندې موارد شامل وي:

- په ساه اخیستلو کې ستونزه
- ستاسو د مخ او ستوني پړسېدل
- د زړه چټک ټکان
- ستاسو په ټول بدن یو بد خارښت
- کنګسوالی او کمزوري

د ټیټې کچې پلاکټونو سره د وینې ټوټې:

د وینې ټوټې، چې په مغز، سږو، معدې او پښو کې د وینې رګونه پکې شامل دي، د پلاکټونو ټیټه کچه (د وینې حجرې، چې ستاسو بدن سره د وینې جریان بندولو کې مرسته کوي)، په ځینو هغو خلکو کې رامنځته شوي دي، چې د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین یې ترلاسه کړی. په هغو خلکو کې چې د وینې ټوټې او د پلاکټ ټیټه کچه یې رامنځته کړې، نښې نښانې د واکسین کولو څخه نږدې له یوې څخه تر دوو اونیو وروسته راڅرګندېږي. د جانسن COVID-19 واکسین څخه وروسته د ټیټې کچې پلاکټ سره د وینې ټوټې په نارینه او ښځینه کې راپور شوي، د 18 کالو او ډېر عمر لرونکي اشخاصو کې د راپور ورکولو کچه د 30 څخه تر 49 کلونو پورې په میرمنو کې لوړه ده (د واکسین د هر 100,000 ډوزونو لپاره شاوخوا 1 قضیه) او په هرو 7 کې شاوخوا 1 قضیه وژونکې ده.

که چېرې د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین له ترلاسه کولو وروسته لاندې نښې نښانې ولرئ، نو په بېړنی توګه باید د روغتیایي پاملرنې غوښتنه وکړئ:

- ساه لنډي
- د سینې درد
- د پښې پړسېدل
- د معدې پرله پسې درد
- پرله پسې شدید سر درد او د سترګو جال جال کېدل
- د انجیکشن له ځایه اخوا د پوستکي لاندې په اسانی زخم یا د وینې کوچني داغونه

ترومبوسایټوپینیا معافیت سیستم (ITP)

Immune Thrombocytopenia (ITP) یو اختلال دی چې کولی شي د پلاکټ خورا ټیټې کچې له امله په اسانی ډېر زخم او وینه بهېدنه رامینځته کړي. ITP په هغو خلکو کې لیدل شوی چې د جانسن COVID-19 واکسین یې ترلاسه کړی. زیاتره په دغو خلکو کې نوموړې نښې نښانې د جانسن COVID-19 واکسین ترلاسه کولو وروسته په 42 ورځو کې لیدل شوي. د ددغو نښو پیښېدلو چانس خورا کم دی. که تاسو کله هم د ITP تشخیص ټیسټ لری، مخکې له دې چې تاسو جانسن-کویډ ترلاسه کړی د خپل واکسین چمتو کونکي سره خبرې وکړئ.

۱۹ واکسین. که چیرې تاسو د جانسن COVID-19 واکسین ترلاسه کولو وروسته لاندې نښې نښانې په ځان کې وګورې نو باید سمدلاسه طبي مرکز ته مراجعه وکړئ.

- د انجیکشن له ساحې شاوخوا او د پوټکي لاندې په ډېر زخم یا د وینې کوچني داغونه ووینی،
- غیر معمولي یا ډېره خونریزي.

<u>ګیلین بیری سنډروم (یو ډول عصبي اختلال)</u>

(Guillain Barré syndrome) یو ډول عصبي اختلال دی، چې د بدن د معافیت سیستم عصبي حجرې زیانمنوي، د عضلاتو کمزوري او ځیني وختونه فلج رامنځته کوي) په ځینو هغو کسانو کې رامنځته شوی چې د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین یې ترلاسه کړی. په اکثره کسانو کې یې د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین له ترلاسه کولو وروسته نښې نښانې ۴۲ ورځې وروسته راڅرګندي شوې دي. د رامنځته کېدو سلنه یې ډېره کمه ده.
که چېرې د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین له ترلاسه کولو وروسته لاندې نښې نښانې ولرئ، نو په بېړنی توګه باید د روغتیایي پاملرنې غوښتنه وکړئ:

- د کمزورئ یا خاربښت احساس، په ځانګړې توګه په پښو یا لاسونو کې، چې خرابیږي او د بدن نورو برخو ته خپریږي.
- قدم وهلو کې ستونزه
- د مخ په حرکتونو کې د ستونزې سربېره د خبرو کولو، ژاولو ژولو او یا له ستوني د تېرولو د حرکتونو ستونزه
- دوه ځلي کتل یا د سترګو د خوځولو د حرکت ناتواني
- د مثانې د کنټرول یا د کولمو په فعالیت کې ستونزه.

دا ښایي د جانسن کووېډ-۱۹واکسین ټول احتمالي جانبي عوارض نه وي. جدي او غیر متوقع عوارض هم کیدای شي. د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین لا هم په کلینیکي ازموینو کې تر څېړنې لاندې دی.

**د جانبي اغېزو پر وړاندې باید څه وکړم؟**

که چېرې تاسو شدید حساسیتي غبرګون لرئ، ۱-۱-۹ ته زنګ ووهئ او یا هم نږدې روغتون ته ولاړ شئ.
که چېرې تاسو کومه جانبي ستونزه لرئ، چې تاسو په تکلیفوي او له منځه نه ځي، نو خپل واکسین چمتو کوونکي او یا هم روغتیا پال سره اړیکه ونیسئ.
د واکسین د جانبي عوارضو راپور FDA/CDC د واکسین منفي پېښو راپور ورکولو سیستم **(VAERS)** ته ورکړئ. -1 800-822-7967 د (VAERS) وړیا شمېره ده او یا هم په انلاین توګه https://vaers.hhs.gov/reportevent.html ته راپور ورکړئ. مهرباني وکړئ د راپور فورمه د # ۱۸ شمېرې بکس په لومړی کرښه کې د جانسن کووېډ-واکسین په (EUA) کې شامل کړئ.

پر دې سربېره تاسو کولای شئ د جانبي عوارضو راپور جانسن بوټېک اینک ته د اړیکو د لاندې معلوماتو په وسیله ورکړئ:

| د ټېلفون شمېره | د فاکس شمېره | برېښنالیک |
|---|---|---|
| US Toll Free: 1-800-565-4008<br>US Toll: (908) 455-9922 | 215-293-9955 | JNJvaccineAE@its.jnj.com |

تاسو ته ښايي په v-safe کې هم د نوم ليکنې واک درکړل شي. v-safe يوه نوې داوطلبانه د زيرک ټيلفون وسيله ده، چې د متن د پيغام لېږدولو او وېب سروې ترسره کوي، تر څو د هغو کسانو سره وګوري چې واکسين شوي او د کووېډ-۱۹ له واکسين وروسته يې احتمالي ضمني اغېزې معلومې کړي.
V-safe داسې پوښتنې کوي، چې له CDC سره د کرونا واکسينونو د خونديتوب څارنه کې مرسته کوي. V-safe د اړتيا پر مهال د واکسين د دويم ډوز يادونه هم برابروي او د CDC له لوري په ژوندۍ بڼه ټيلفون څارل کېږي. که چېرې کډونوال د کووېډ-۱۹د واکسين له کولو وروسته د پام وړ روغتيايي عوارضو راپور ورکړي. د نومليکنې څرنګوالي په اړه د نورو معلوماتو لپاره .www.cdc.gov/vsafe وګورئ.

**څه به وشي که چېرې زه د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين د نه اخيستو پرېکړه وکړم؟**

دا ستاسو خپله خوښه ده، چې د جانسن کووېډ- واکسين کوئ که نه. که چېرې يې تاسو د نه ترلاسه کولو پرېکړه وکړئ، دا به ستاسې معياري روغتيايي پاملرنه کې بدلون رامنځته نه کړي.

**ايا د کووېډ-۱۹ د مخنيوي لپاره د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين سربيره بل انتخاب شته؟**

د کووېډ-۱۹ د مخنيوي لپاره بله ټاکنه کوميرناټي دی. دا هم د FDA له لوري د کووېډ-۱۹ تصويب شوی واکسين دی. د کووېډ-۱۹ د مخنيوي په موخه نور واکسينونه ښايي د بېړنۍ کارونې تر واک لاندې موجود وي.

**آيا نورو واکسينونو سره هممهاله زه کولای شم د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين هم ترلاسه کړم؟**

په ورته وخت کې د نورو واکسينونو په څېر FDA ته د کووېډ-۱۹واکسين د تنظيمولو په اړه لا هم معلومات نه دي سپارل شوي. که چېرې تاسو له نورو واکسينونو سره يو ځای د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين د ترلاسه کولو په اړه فکر کوئ، خپل روغتيا پال سره د خپلې ټاکنې په اړه خبرې وکړئ.

**که زه حامله يا شيدې ورکوم څه به وشي؟**

که چېرې تاسو حامله يا شيدې ورکوونکې ياست، خپل انتخاب مو له خپل روغتيا چمتوو کوونکي سره شريک کړئ.

**آيا د کووېډ-۱۹ واکسين به پر کرونا اخته کړي؟**

نه، د جانسن کووېډ-۱۹واکسين **SARS-CoV-2** نه لري او نه شي کولای تاسو په کووېډ-۱۹ اخته کړي.

**د واکسين کار مو وساتئ**
کله چې تاسو د جانسن کووېډ-۱۹واکسين ترلاسه کړ، تاسو ته به د واکسين کارت درکړل شي چې د واکسين نوم او تاريخ چې کله تاسو ته واکسين درکول شوی، خوندي کړي.

**نور معلومات**

که چېرې تاسو د جانسن کووېډ-۱۹ واکسين وروستی حقيقت پاڼې ته د لاسرسي په موخه کومه پوښتنه لرئ، لاندې QR کوډ سکېن کړئ، وېب پاڼې ته لاړ شئ او يا هم په لاندې ټيلفون شمېرو اړيکه ونيسئ:

| د ټیلفون شمېرې | د حقیقت پاڼو ویب پاڼه | QR کوډ |
|---|---|---|
| US Toll Free: 1-800-565-4008<br>US Toll: (908) 455-9922 | www.janssencovid19vaccine.com. | |

**څنګه کولای شم نور هم زده کړم؟**

- د واکسین چمتو کوونکي څخه پوښتنه وکړئ
- CDC څخه لیدنه وکړئ https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/index.html
- FDA څخه لیدنه وکړئ https://www.fda.gov/emergency-preparedness-and-response/mcm-legal- regulatory-and-policy-framework/emergency-use-authorization

د خپل ریاست او یا هم سیمه ییزې عامې روغتیا ریاست سره اړیکه ونیسئ

**زما د واکسین معلومات چېرته ثبتیږي؟**

د واکسین چمتو کوونکی ښایي ستاسو د و اکسین معلومات ستاسو په ایالت، سیمه ییزه قضایي حوزه کې د معافیت د معلوماتو سیستم (IIS) یا هم بل ټاکل شوي سیستم کې شامل کړي. دا به تضمین وکړي چې د دویم ډوز واکسین ترلاسه کولو پر مهال به تاسو یو ډول واکسین ترلاسه کړئ. د (IIS) په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره لاندې لینک وګورئ: https://www.cdc.gov/vaccines/programs/iis/about.html.

**آیا زه د کوویډ-۱۹ واکسین د ترلاسه کولو لپاره باید اداري فیس ورکړم؟**

نه، په دې وخت کې د واکسین چمتو کوونکی نه شي کولای د واکسین د ډوز درکولو پر مهال له تاسو پیسې واخلي او یا هم له خپل جیب څخه کوم اداري فیس ورکړئ، که چېرې یوازې د کوویډ-۱۹ واکسین ترلاسه کوئ. په هر صورت، د واکسین چمتو کوونکی ښایي د یوه پروګرام یا پلان څخه مناسب لګښت وغواړي، چې د واکسین اخیستونکي لپاره د کوویډ-۱۹ واکسین اداري فیس رانغاړي. (لکه شخصي بیمه، درمل، میډیکاډ او د کوویډ-۱۹ HRSA غیر بیمه شوی پروګرام د غیر بیمه اخیستونکي لپاره).

**د شکمنې درغلۍ د قضیې راپور چېرته ورکړم؟**

هغه خلک چې د کوویډ-۱۹ د CDC واکسین کولو پروګرام له اړتیا څخه د هر ډول احتمالي سرغړونې څخه خبر وي، هڅول کیږي، چې د متحدو ایالتونو د روغتیا او بشري خدمتونو څانګې د عمومي مفتش دفتر ته په لاندې ادرس راپور ورکړي: 1-800-HHS-TIPS or TIPS.HHS.GOV.

**د ټپونو د جبران د مخنیوي پروګرام پر وړاندې اقدامات څه دي؟**

د ټپونو د جبران د مخنیوي پروګرام (CICP) یوه فدرالي برنامه ده، چې ښایي د دې واکسین په کډون د ځینو درملو یا واکسینونو له لوري زیانمنو شوو خلکو ته د روغتیایي پاملرنې او نورو ځانګړو لګښتونو د ورکړې برخه کې مرسته وکړي. (CICP) ته باید د واکسین د ترلاسه کولو نېټې څخه وروسته د یو کال په اوږدو کې د زیان ادعا وړورسپارل شي. د دغه پروګرام په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې لینک وګورئ www.hrsa.gov/cicp/
او یا هم دې شمېرې سره اړیکه ونیسئ: 1-855-266-2427

**د بېړنۍ کاروني اجازه (EUA) څه شی دی؟**

د متحدو ایالتونو د FDA د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین د بېړنۍ کاروني EUA په نامه د بېړني لاسرسي تر مېکانېزم لاندې چمتو کړی، چې د روغتیا او بشري خدمتونو د سکرتریت (HHS) له لوري يي ملاتړ کېږي او داسي شرايط شتون لري، تر څو د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال د درملو او بیولوژیکي محصولاتو بېړنۍ کارونه توجیه کړي.

د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین ته FDA د تایید شوي یا پاک شوي تولید په څېر بیا ځلي کتنه نه ده کړې. FDAښايي د ځینو معیارونو له بشپړولو وروسته یوازې د بېړنۍ کاروني اجازه یا (EUA) صادر کړي، چې بشپړ، تایید شوي او شته بدلونه شتون نه لري. پر دې سربېره د FDA پرېکړه د شته ساینسي ثبوتونو شواهدو پر بنسټ ده، چې څرګندوي ښایي دغه محصول د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال د کووېډ-۱۹ مخنیوي لپاره اغېزناک وي او دا چې د محصول پېژندل شوي او احتمالي ګټې د پېژندل شوو احتمالي ګواښونو څخه ډېرې دي. دا ټول معیارونه باید پوره شي، تر څو د کووېډ-۱۹ وبا پر مهال محصول ته د کارولو اجازه ورکړي. د جانسن کووېډ-۱۹ واکسین لپاره EUAد کووېډ-۱۹ د EUA اعلامیې د مودې لپاره د دې محصولاتو بېړنۍ کارونه توجیه کوي، پرته له دې چې لغوه شي (له دې وروسته ښايي محصولات نور ونه کارول شي).

جوړونکی:

جانسن بوټېک ، اینک

د جانسن او جانسن هورشام د جانسن درمل جوړوني شرکت، PA 19044، د امریکا متحده ایالات

Janssen | PHARMACEUTICAL COMPANIES OF Johnson & Johnson

© 2021 Janssen Pharmaceutical Companies

For more information, call US Toll Free: 1-800-565-4008, US Toll: (908) 455-9922 or go to www.janssencovid19vaccine.com

© 2021 جانسن درمل جوړونکي شرکتونه

بیاکتنه: ۱۱ جنوري ۲.۲۲

طبي برېښنايي د پاڼه حقيقت دا چې کړئ سکين لپاره دی د
ته اخيستونکي واکسين د لپاره سيستمونو ډېټا معافيت / ريکارډونو
.وه شوې ورکړل

GDTI: 0886983000363